


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



د محب الرحمن « خطیبي » لیکنه
د نشر نیټه : ۲۸ می ۲۰۱۳ میلادی

# زړه تور دی

نور له کینی او له نفرت نه مـــی زړه تور دی
د جنګ له غږ او خصومت نه می زړه توردی
څنګه به عقل وینی سترګو کـــی چی عقل نشته؟
له نا پوهی او بربریت نــــه می زړه توردی
دیرش کاله ظلم ناپوهـــــی او تاریکی ده دلته
نور له تورتم او له ظلمت نه مــی زړه توردی
که مسلمان یی نو بیا ولی مسلمان وژنـــــی ته؟
ډک له کینی ستــــا عبادت نه می زړه تور دی
بس کی اصلاح شی ، کړی له خدای څخه ډار
نور له دی ظلم او نجاست نه می زړه تور دی
آبادی نشته ورانول دلته همت بولـــــی خلک
محب وایی دارنګه همت نه می زړه تور دی
*****

محب الرحمن « خطیبی »
کرسنادار ۲۰۱۳\۵\۲۳

بازګشت به صفحه اصلی -www.said-afghani.org